| **Cash flow from financing activity:** | | |
| Cash receipts | XXXX | |
| Cash payment | (XXXX) | |
| Net cash used in financing activity | | XXXX |
| Net increase/decrease in cash and cash equivalent | | XXXX |

**د نغدي جریان راپور Cash Flow Statement د جوړولو طریقه:**

د نغدي جریان راپور د جوړولو لپاره مونږ باید Balance Sheet او Income Statement ولرو. هره برخه کې چې د نغدي جریان ثبت کوو لومړی ټول د نغدي راتګ (Cash receipt) لیکو او بیا له هغي نه ټول د نغدي تګ (Cash payment) منفي کوو. په آخره کې که ځواب مثبت راغی نو هغي ته Net increase in cash لیکو او که منفي راغی نو بیا ورته Net decrease in cash لیکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس راځو د يو مثال په نظر کې نيولو سره د يو کاروبار لپاره د نغدي جريان راپور Cash flow statement جوړوو.

**Example: The following summary cash account has been extracted from the company's accounting records:**

**Summary of cash account**

| | Dr | Cr |
|---|---|---|
| **Balance at March.3.2019** | | **35000 Af** |
| Receipt from customers | | 37830 Af |
| Issue of shares | | 3000 Af |
| Sales of fixed assets | | 1280 Af |
| | | **77110 Af** |
| Payment to suppliers | 2047 Af | |
| Payment for fixed assets | 2300 Af | |
| Payment for preliminary expenses | 1150 Af | |
| Wages and salaries | 6900 Af | |
| Taxation | 2430 Af | |
| Dividends | 8000 Af | |
| Repayment of bank loan | 2500 Af | (25327) Af |
| **Balance at February.31.2020** | | **51783 Af** |

Prepare the cash flow statement of this company Hills Ltd. For the year ended 31st February 2020.

The company does not have cash equivalents.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Hills Ltd**

**Cash flow statement for the year ending 31st February 2020**

| Particulars | Details | Amount |
|---|---|---|
| **Cash Flow from Operating Activity:** | | |
| Receipt from customers | 37830 Af | |
| Payment to supplier | (2047) | |
| Payment for preliminary expenses | (1150 Af) | |
| Payment for wages and salaries | (6900 Af) | |
| Cash for operation before tax | 27733 Af | |
| (-) Tax paid | (2430 Af) | |
| **Net cash generated from operating activity** | | **25303 Af** |
| **Cash Flow from Investing Activity:** | | |
| Sales of fixed assets | 1280 Af | |
| Purchase of fixed assets | (2300 Af) | |
| **Net cash used in investing activity** | | **(1020 Af)** |
| **Cash Flow from Financing Activity:** | | |
| Issue of shares | 3000 Af | |
| Dividends paid | (8000 Af) | |
| Repayment of bank loan | (2500 Af) | |
| **Net cash used in financing activity** | | **(7500 Af)** |
| **Net increase in cash and equivalents** | | **16783 Af** |
| **Add: Cash and cash equivalents as on March.3.2019** | | **35000 Af** |
| **Cash and cash equivalents as on Feb/31/2020** | | **51783 Af** |

پورتنی مثال یو ډیر ساده او آسانه مثال دی چې د Hills کمپنی دبیلانس شیټ اوIncome Statement خلاصه ده او مونږ صرف دغه ټول معلومات په Cash Flow کې ثبت کړل. د March د میاشتې په دریمه نیټه له کمپنی سره 35000 افغانی له مخکې نه موجود وو. او یو کال وروسته یعني د February د میاشتې په یو دیرشمه نیټه د کمپنی د نغدې بیلانس 51783 افغانی وو،

دا د نغدې جریان لپاره ترټولو آسانه او ساده فرمټ یا شکل وو او پورتنی مثال هم ډیر ساده مثال وو خو تاسې کولای شئ چې په مختلفو کتابونو او انټرنیټ کې د Cash Flow لپاره مختلف شکلونه او مثالونه پیدا کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Statement of stockholder's equity

دا یو مالي راپور دی چې یو کمپنی یې د خپل بیلانس شیټ دیوې برخې په توګه نشروي. دا راپور مونږ ته د یو کمپنی د سهم لرونکو د سهمونو د ارزښت ښودنه کوي او د هر سهم په ارزښت کې تغیرات په ګوته کوي.

**سهم:** هغه سند ته ویل کیږي چې د هغې په ترلاسه کولو سره یو شخص د سهامي شرکت سره په ګټه او تاوان کې شریک کیږي د سهامي شرکت د تأسیس کیدو په وخت کې د ټولو سهمونو شمیر او د هر سهم اسمي قیمت معلوم وي چې په مالي بازار کې د خرڅلاو په نتیجه کې سهامي شرکت پیسې لاسته راوړي. د تجارتي سندونو په هکله به په راتلونکو عنوانونو کې پوره معلومات ترلاسه کړئ.

هرکله چې د شتمنیو نه ټول پردی پانګه منفي شي نو خپلنی پانګه یا Equity لاسته راځي:

**Assets – Liability = Equity**

معمولاً سهامي شرکتونه چې کله وغواړي پیسې لاسته راوړي نو دوي اسهام (Shares) بازار ته د خرڅلاو لپاره وړاندې کوي چې دیته Common stock or Unit of ownership هم وایي، یعني ددې اسنادو په اخیستلو سره یو شخص د سهامي شرکت شریک (مالک) ګرځي.

Stockholder's equity دوه برخې لري:

**Capital stock یا د یو کمپنی د ټولو سهمونو معین ارزښت:**

پدې کې Beginning capital stock د نشر شویو سهمونو(Issuance of Capital stock) له ارزښت سره جمع کیږي او د نشر شویو سهمونو له اخیستلو (Repurchase of cap.stock or Treasury stock) څخه منفي کیږي او کوم حاصل چې لاسته راځي هغې ته Ending Capital Stock وایي.

**Capital stock: Beginning capital stock + issuance of capital stock – Repurchase of capital stock = Ending capital stock**

**Retained Earnings یا نا توزیع شوې ګټه:**

پدې برخه کې هم Beginning retained earnings د خالص عوایدو (Net Income) سره جمع کیږي یا خالص تاوان (Net Loss) ورڅخه منفي کیږي بیا توزیع شوې ګټه (Dividend) ورڅخه منفي کیږي او کوم حاصل چې لاسته راځي هغې ته Ending Retained Earnings وایي.

**Retained Earnings: Beginning retained earnings + Net income/ – Net Loss – Dividends = Ending Retained Earnings.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

Capital stock چې کله زیاتیږي دا پدې معنی ده چې خلک د سهامي شرکت په اسهامو کې پانګه اچوونه کوي چې دې سره سهامي شرکت ته زیاته پانګه په لاس ورځي.

Capital Stock چې کمیږي دا پدې معنی ده چې سهامي شرکت د خلکو یا پانګوالو نه خپل د سهم اسناد بیرته اخلي او په بدل کې هغوي ته هغه مقدار پیسې ورکوي کوم چې د سهم په سند لیکل شوی وي.

**Preferred stock:**

دا د سهامي شرکت هغه اسهام دي چې سهامي شرکت یې د پانګې د ترلاسه کولو لپاره نشر ته سپاري او هر هغه څوک چې پدې ډول اسهامو کې پانګه اچوونه کوي هغه د سهامي شرکت شریک (مالک) ګرځي دا اسهام د Common stock په نسبت قیمته دي او ګټې یې هم د Common stock په نسبت زیات دی. مثلاً کله چې کاروبار ګټه کوي نو تر ټولو لومړی د Preferred stock لرونکي ته خپله برخه ورکول کیږي همدارنګه نورې ګټې هم لري.

**Additional Paid in Capital (APIC):**

**APIC** د هر سهم د اصلي قیمت او د بازار د قیمت ترمنځ تفاوت ته ویل کیږي. یعني د سهم د هغه قیمت چې پانګوال ورته آماده دي چې تادیه یې کړي او د اصلي قیمت تفاوت ته **APIC** ویل کیږي.

**مثال:**

**On January 31st 2020 Sydney corporation has $2000 in common stock, $3400 in preferred stock, and $5600 in Additional paid in capital. Additionally, they have $2200 in treasury stock and finally $4700 in Retained Earnings.**

**How much should Sydney report for stockholder's equity?**

**په پورته مثال کې د Stockholder's equity د محاسبه کولو لپاره لنده طریقه:**

Common stock + Preferred stock + APIC + Retained earnings – Dividends – Treasury stock or repurchase of stock = Stockholder's Equity

Common stock = $2000, Preferred stock = $3400, APIC = $5600

Retained Earnings = $4700, Treasury stock or TS = $2200

**Stockholder's equity = Common stock + Preferred stock + APIC + RE – TS**

**Stockholder's equity = $2000 + $3400 + $5600 + $4700 - $2200 = $13500**

**Stockholder's Equity = $13500**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Sydney Corporation**

**Statement of stockholder's Equity**

**For the month ended January 31st 2020**

| | | |
|---|---|---|
| | **Common Stock** | **$2000** |
| **Add:** | **Preferred Stock** | **$3400** |
| **Add:** | **Additional Paid in Capital** | **$5600** |
| **Add:** | **Retained Earnings** | **$4700** |
| **Less:** | **Treasury Stock** | **($2200)** |
| **Total Stockholder's Equity** | | **$13500** |

دا د Stockholder's Equity ترټولو آسانه او ساده شکل او د حل طریقه ده خو تاسي کولی شئ چې په مختلفو کتابونو او انټرنیټ کې د دې راپور لپاره مختلف حل لارې او شکلونه پیدا کړئ او زده یې کړئ.

**مالي سندونه یا Financial Securities**

مالي سندونه هغه سندونو ته ویل کیږي چې د هغې په پیرودلو سره یو شخص د یو سهامي شرکت یا کوم بل مالي اداري سره په کاروبار کې شریک کیږي او یا هم سهامي شرکت یا بله مالي اداره لدې شخص څخه پوروړی کیږي. د سهامي شرکت د تأسیس کیدو په وخت کې د ټولو سهمونو شمیر او د هر سهم اسمي قیمت معلوم وي.

مالي سندونه معمولاً دوه حالتونه لري:

- د ملکیت حالت
- د پور حالت

مالي سندونه بیلابیل ډولونه لري چې ترټولو مهم یې په لاندي ډول دي:

Shares ونډه (سهم):

ونډه (سهم) هغه مالي سند ته ویل کیږي چې د سهامي شرکتونو له لوري د تمویل د منبع په توګه تري استفاده کیږي، یعني سهامي شرکتونه یې د پانګې د لاسته راوړلو لپاره نشر ته سپاري. دا مالي سند د لاندې خصوصیاتو لرونکی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لومړی:** د سهم درلودونکی د سهامي شرکت سره په ګټه او تاوان کې شریک کیږي.

**دوهم:** هر سهم لرونکی د سهامي شرکت نه د خپلې سرمایې یا خپل د سهم په اندازه د ګټې او تاوان مستحق دی.

**دریم:** هر سهم دوه قیمتونه لري چې یو ته یې اسمي قیمت (Nominal Value) ویل کیږي او بل ته یې د بازار قیمت (Market Value) ویل کیږي.

**څلورم:** د سهم لرونکي ته د سهامي شرکت له لوري هیڅ ډول سود نه ورکول کیږي.

**پنځم:** د سهم درلودونکی په مالي بازار کې د سهم د خرڅلاو له لارې په آسانی سره کولی شي چې خپلې پیسې بیرته لاسته راوړي.

**Bond یا د قرضي سند:**

Bond هم د سهم په څیر د قرضي یو مالي سند دی چې یوازې د سهامي شرکتونو له لورې نشر کیږي. سهامي شرکتونه یې د اړتیا په وخت کې د پانګې د ترلاسه کولو لپاره مالي بازار ته د خرڅلاو لپاره وړاندې کوي. بانډ لاندې خصوصیات لري:

**لومړی:** هر Bond خپل معلوم اسمي قیمت لري چې د سند د پاسه لیکل شوی وي.

**دوهم:** هر Bond د سود معلوم نرخ لري.

**دریم:** هر Bond خپل معلوم وخت لري چې ددې وخت د پوره کیدو څخه وروسته د دغه سند درلودونکی کولی شي چې د سهامي شرکت نه خپل اصلي پیسې د سود سره بیرته لاسته راوړي.

**څلورم:** د Bond درلودونکی د سهامي شرکت سره په ګټه او تاوان کې نه شریک کیږي، بلکې د سهامي شرکت ورته د معلوم وخت د پوره کیدو څخه وروسته یو اندازه سود ورکوي.

**:Treasury Bill**

دا هم د Bond په څیر د قرضي یو مالي سند دی معمولاً د امریکا د متحده ایالاتو او همدارنګه د یو شمیر نورو هیوادونو د مرکزي بانک له لورې نشریږي. Treasury Bill هم لاندې خصوصیات لري:

**لومړی:** مرکزي بانک لدې سند څخه د پولي پالیسي د یوې وسیلې په توګه استفاده کوي.

**دوهم:** دغه سند د قرضي یو لنډ مهاله سند دی او ددې سند درلودونکی کولی شي چې د یو کال په جریان کې خپلې پیسې بیرته لاسته راوړي.

**دریم:** د امریکا د متحده ایالاتو نه پرته د نورو هیوادونو د مرکزي بانکونو له لورې هم دغه سند نشریږي خو په مختلفو نومونو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### :Common Stock

دا هم د ونډې اسهام دي چې په سهامي شرکت کې ددې سند لرونکي د ملکيت حالت ښايي. دې اسنادو ته Unit of Ownership هم وايي او په UK يا برتانيا کې ورته Ordinary Shares وايي او خصوصيات يې په لاندې ډول دي:

**لومړی:** ددې سند درلودونکی کولی شي چې د رئيس په ټاکلو کې رايه وکړي يا خپل ځان د کمپنی رياست ته کانديد کړي.

**دوهم:** ددې سند لرونکی د خپلې ونډې په اندازه د پور د ادا کولو مسؤليت لري.

**دريم:** ددې سند لرونکی حق لري چې توزيع شوې ګټه لاسته راوړي خو دا ګټه به ثابت نه وي.

**څلورم:** ددې سند درلودونکی کولی شي چې خپل ونډه په بل چا وپلوري.

دا او ديته ورته نور مالي سندونه هم شته چې تاسي يې کولی شئ په مختلفو کتابونو او انټرنيټ کې پيداکړئ.

### د نغدې کتاب Cash Book

د نغدې کتاب يو داسي کتاب دی چې په هغې کې يواځې د نغدې مربوط ټولې مالي راکړې ورکړې ثبت کيږي لکه رسيد او تاديه يا Receipt and Payment.

په کاروبار کې تقريباً 90% معاملات په نغدو صورت نيسي همدارنګه تاسي مخکې په ژورنال کې وليد چې د نغدې مربوط راکړې ورکړې ډير تر سترګو کيږي نو محاسب دا مناسب ګڼي چې د نغدې لپاره يو بيل کتاب يا يو بيل حساب جوړ کړي او د نغدې مربوط ټول Transactions پکې ثبت کړي. همدارنګه د وخت په تيريدو سره په کاروبارونو کې کاروباري راکړې ورکړې يا Business Transaction زياتيږي نو د هغې ثبت کول يوازې په ژورنال کې د قناعت وړ نه دی نو ځکه دې ته ضرورت ليدل کيږي چې د نقدې په نوم يو بيل کتاب ثبت شي. Cash Book چې کله جوړيږي نو بلکل د ليجر د Cash A/C غوندې جوړيږي خو يوازينی توپير يې دادی چې د Cash A/C پر ځای ورته د Cash Book نوم اخيستل کيږي.

**نوټ:** يو محاسب د Cash Book د جوړولو څخه وروسته بايد په ليجر کې د نغده حساب يا بانک حساب جوړ نه کړي او نه بايد د نغدې مربوط کوم معامله په ژورنال کې ثبت کړي.

Cash Book يا د نغدې کتاب مختلف ډولونه لري چې مهم يې په لاندې ډول دي:

- Simple Cash Book or Single Column Cash Book.
- Two Column Cash Book.
- Three Column Cash Book.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Single Column Cash Book

دا ډول د نغدې کتاب هغه وخت جوړېږي کله چې د نغدې مربوط راکړې ورکړې زيات وي.په Single Column Cash Book کې يواځې د نغدې مربوط راکړې ورکړې ثبت کيږي او دوه اړخونه يعنی Debit او Credit پکې شتون لري چې د ډيبيټ برخه يې د Receipt برخه ده او د کريديت برخه يې د Payment برخه ده.د Receipt معنی داده چې څومره نغده کاروبار لاسته راوړې او د Payment مطلب داده چې څومره تاديات کاروبار په نغدو کړې ده.

په Single Column Cash Book کې چې کله مونږ اقتصادي معاملات ثبت کړل بيا هغه ليجر ته انتقالوو خو دا په ياد ولرئ چې د Payment برخې مجموعه هميشه د Receipt برخې د مجموعې نه کم وي يعني د Debit برخه هميشه زيات وي د Credit برخې نه.

**د Single Column Cash Book شکل يا Format:**

**Books of XXXX**

**Dr** **Cash Book** **Cr**

| Date | Receipts | L.F | Amount | Date | Payments | L.F | Amount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی مثال:

**Enter the following transactions in a simple cash book of Alokozay.Ltd:**

**January/2018**

**January 1st: Started Business with cash 25000 Af.**

**January 3rd: Purchased building for cash 10000 Af.**

**January 5th: Purchased goods for cash 3000 Af.**

**January 8th: Paid advance salary in cash 1200 Af.**

**January 10th: Sold goods for cash 1800 Af.**

**January 15th: Cash deposited into Bank 5000 Af.**

**January 17th: interest received 300 Af.**

**January 21: Withdrawn cash for personal use 1100 Af.**

**January 25th: Paid insurance premium for cash 1400 Af.**

**January 30th: Paid to Mr. Khalid 450 Af.**

**January 31st: Bought office furniture 2100 Af.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Books of Alokozay.Ltd

**Dr** **Cash Book** **Cr**

| Date | Receipts | L.F | Amount | Date | Payments | L.F | Amount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2018 | | | | 2018 | | | |
| January 1st | To Capital A/C | | 25000 Af | January 3rd | By Building A/C | | 10000 Af |
| January 10th | To Sales A/C | | 1800 Af | January 5th | By Purchase A/C | | 3000 Af |
| January 17th | To Interest A/C | | 300 Af | January 8th | By Prepaid Salary A/C | | 1200 Af |
| | | | | January 15th | By Bank A/C | | 5000 Af |
| | | | | January 21st | By Drawings A/C | | 1100 Af |
| | | | | January 25th | By insurance A/C | | 1400 Af |
| | | | | January 30th | By Mr. Khalid | | 450 Af |
| | | | | January 31st | By Furniture A/C | | 2100 Af |
| | | | | January 31st | **By Balance C/d** | | **2850 Af** |
| | **Total** | | **27100 Af** | | **Total** | | **27100 Af** |
| **February 1st** | **To Balance B/d** | | **2850 Af** | | | | |

**دوهم مثال:**

Enter the following transactions in the cash book of Gulabzada Pvt.Ltd. December 2017:

Dec 1st: Cash in hand 27500 Af.

Dec 5th: Received cash from Muhammad 12000 Af.

Dec 8th: Insurance paid 2000 Af.

Dec 10th: Purchased a furniture 6000 Af.

Dec 14th: Sold goods for cash 16500 Af.

Dec 18th: Purchased goods from Ali for cash 26000 Af.

Dec 22nd: Paid cash to Rehan 3200 Af.

Dec 25th: Sold goods to Khalid for cash 18700 Af.

Dec 28th: Cash deposited into Bank 5000 Af.

Dec 30th: Paid rent of the building 4000 Af.

Dec 31st: Paid salaries of employees 7000 Af.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورته مثال کې د Cash in hand موضوع لیکل شوی دی دا پدې معنی ده چې له کاروبار سره د پخوا نه یا د تیرې میاشتې نه دومره اندازه نغده موجوده ده او دا به د B/d په برخه کې ثبت کوو.

**Books of Gulabzada Pvt.Ltd**

**Dr** **Cash Book** **Cr**

| Date | Receipts | L.F | Amount | Date | Payments | L.F | Amount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2017 | | | | 2017 | | | |
| Dec 1st | To Balance B/d | | 27500 Af | Dec 8th | By Insurance A/C | | 2000 Af |
| Dec 5th | To Muhammad A/C | | 12000 Af | Dec 10th | By Furniture A/C | | 6000 Af |
| Dec 14th | To Sales A/C | | 16500 Af | Dec 18th | By Purchase A/C | | 26000 Af |
| Dec 25th | To Sales A/C | | 18700 Af | Dec 22nd | By Rehan A/C | | 3200 Af |
| | | | | Dec 28th | By Bank A/C | | 5000 Af |
| | | | | Dec 30th | By Rent A/C | | 4000 Af |
| | | | | Dec 31st | By Salaries A/C | | 7000 Af |
| | | | | Dec 31st | **By Balance C/d** | | **21500 Af** |
| **2018** | **Total** | | **74700 Af** | | **Total** | | **74700 Af** |
| **January 1st** | **To Balance B/d** | | **21500 Af** | | | | |

کله چې په Cash Book کې ټولې راکړې ورکړې ثبت شوې د هغې نه وروسته هر حساب ته لیجر جوړیږي. که پورتنی مثال په نظر کې ونیسو نو پدې مثال کې د Cash او Balance b/d پرته نورو ټولو حسابونو ته لیجر اکونټ جوړیږي. او دا لیجر هم بلکل د هغه لیجر په شان جوړیږي کوم چې په تیرو عنوانونو کې تاسي ولوست.

**In the books of Gulabzada Pvt.Ltd**

**Dr** **Muhammad A/C** **Cr**

| Date | Particulars | JF | Amount | Date | Particulars | JF | Amount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2017 | | | | 2017 | | | |
| Dec 31st | **To Balance C/d** | | **12000 Af** | Dec 5th | By Cash A/C | | 12000 Af |
| | **Total** | | **12000 Af** | | **Total** | | **12000 Af** |
| | | | | **Jan/1/18** | **By Balance b/d** | | **12000 Af** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## In the books of Gulabzada Pvt.Ltd

**Dr** **Sales A/C** **Cr**

| Date | Particulars | JF | Amount | Date | Particulars | JF | Amount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2017<br>Dec 31st | **To Balance C/d** | | **35200 Af** | 2017<br>Dec 14th<br>Dec 25th | By Cash A/C<br>By Cash | | 16500 Af<br>18700 Af |
| | **Total** | | **35200 Af** | | **Total** | | **35200 Af** |
| | | | | **Jan/1/18** | **By Balance b/d** | | **35200 Af** |

## In the books of Gulabzada Pvt.Ltd

**Dr** **Insurance A/C** **Cr**

| Date | Particulars | JF | Amount | Date | Particulars | JF | Amount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2017<br>Dec 8th | To Cash A/C | | 2000 Af | 2017<br>Dec 31st | **By Balance c/d** | | **2000 Af** |
| | **Total** | | **2000 Af** | | **Total** | | **2000 Af** |
| **Jan/1/18** | **To Balance b/d** | | **2000 Af** | | | | |

## In the books of Gulabzada Pvt.Ltd

**Dr** **Furniture A/C** **Cr**

| Date | Particulars | JF | Amount | Date | Particulars | JF | Amount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2017<br>Dec 10th | To Cash A/C | | 6000 Af | 2017<br>Dec 31st | **By Balance c/d** | | **6000 Af** |
| | **Total** | | **6000 Af** | | **Total** | | **6000 Af** |
| **Jan/1/18** | **To Balance b/d** | | **6000 Af** | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## In the books of Gulabzada Pvt.Ltd

**Dr** **Purchase A/C** **Cr**

| Date | Particulars | JF | Amount | Date | Particulars | JF | Amount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2017<br>Dec 18th | To Cash A/C | | 26000 Af | 2017<br>Dec 31st | **By Balance c/d** | | **26000 Af** |
| | **Total** | | **26000 Af** | | **Total** | | **26000 Af** |
| **Jan/1/18** | **To Balance b/d** | | **26000 Af** | | | | |

## In the books of Gulabzada Pvt.Ltd

**Dr** **Rehan A/C** **Cr**

| Date | Particulars | JF | Amount | Date | Particulars | JF | Amount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2017<br>Dec 22nd | To Cash A/C | | 3200 Af | 2017<br>Dec 31st | **By Balance c/d** | | **3200 Af** |
| | **Total** | | **3200 Af** | | **Total** | | **3200 Af** |
| **Jan/1/18** | **To Balance b/d** | | **3200 Af** | | | | |

## In the books of Gulabzada Pvt.Ltd

**Dr** **Bank A/C** **Cr**

| Date | Particulars | JF | Amount | Date | Particulars | JF | Amount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2017<br>Dec 28th | To Cash A/C | | 5000 Af | 2017<br>Dec 31st | **By Balance c/d** | | **5000 Af** |
| | **Total** | | **5000 Af** | | **Total** | | **5000 Af** |
| **Jan/1/18** | **To Balance b/d** | | **5000 Af** | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**In the books of Gulabzada Pvt.Ltd**

**Dr** **Rent A/C** **Cr**

| Date | Particulars | JF | Amount | Date | Particulars | JF | Amount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2017<br>Dec 30th | To Cash A/C | | 4000 Af | 2017<br>Dec 31st | **By Balance c/d** | | **4000 Af** |
| | **Total** | | **4000 Af** | | **Total** | | **4000 Af** |
| **Jan/1/18** | **To Balance b/d** | | **4000 Af** | | | | |

**In the books of Gulabzada Pvt.Ltd**

**Dr** **Salary A/C** **Cr**

| Date | Particulars | JF | Amount | Date | Particulars | JF | Amount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2017<br>Dec 31st | To Cash A/C | | 7000 Af | 2017<br>Dec 31st | **By Balance c/d** | | **7000 Af** |
| | **Total** | | **7000 Af** | | **Total** | | **7000 Af** |
| **Jan/1/18** | **To Balance b/d** | | **7000 Af** | | | | |

## Double Column Cash Book

Double Column Cash book ته Bank Column Cash Book هم وايي او دا ډول د نغدي کتاب هغه وخت جوړيږي چي کله د نغدي مربوط راکړو ورکړو ترڅنګ بانکي معاملات هم زيات وي نو بيا په Cash Book کې د Cash Column ترڅنګ د Bank Column هم جوړيږي. پدې ډول نغدې کتاب کې د نغدې مربوط معاملات په همغه پخواني شکل ثبت کيږي او د بانک مربوط معاملات او د ځينو نورو معاملاتو د ثبت په هکله لاندې ټکي په پام کې ولرئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په Double Column Cash Book کې د بانکي راکړو ورکړو او ځینو نورو اقتصادي معاملاتو د ثبت کولو طریقه:**

## Opening Balance

که چیرې په Transactions یا معاملاتو کې Opening Balance موجود وو یعنی کاروبار سره د پخوا نه یو اندازه نغدې پیسې او یا هم په بانک کې پیسې موجود وو نو داسې معاملات په Cash Book کې پدې ډول ثبت کوو:

که چیرې Opening Balance په نغده کې وو یعني تصدی سره د تیرې میاشتې نه یا د تیرې مالي دورې نه نغدې پیسې موجود وو نو دغه Balance b/d به د ډیبیت په برخه کې لیکو او مبلغ یې هم د نغده په کالم کې لیکو. خو که چیرې په معلوماتو کې لیکل شوي وو چې Cash in bank نو پدې صورت کې دغه Balance b/d بیا هم د ډیبیټ په برخه کې لیکو خو مبلغ یې د بانک په کالم کې لیکو.

که چیرې په Transaction کې له بانک حساب سره (Cr) په قوس کې کریډیت لیکل شوی وو نو بیا Balance b/d په کریډیټ برخه کې لیکو.

## Receipt of cheque

که چیرې کاروبار د کوم مشتري نه بانکي چیک ترلاسه کړي او په همغه ورځ دغه چیک بانک ته انتقال کړي نو دا ډول مالي معاملات د بانک په کالم کې ثبت کیږي خو که چیرې کاروبار دغه چیک په همغه ورځ بانک ته انتقال نکړي بلکې په سبا ورځ یا په کومه بله نیټه د غه چیک بانک ته انتقال کړي نو پدې صورت کې نوموړی Transaction د نغدې په کالم (Cash) کې ثبت کیږي.

## Contra Entries

هغه ډول راکړو ورکړو ته ویل کیږي چې د هغې ثبت کول په یو وخت کې په دوه کالمونو کې صورت نیسي او دواړه حسابونه ترې متأثره کیږي، یعني هم په بانک کالم کې تغیر راځي او هم د نغدې په کالم کې تغیر راځي. مثلاً که چیرې مونږ پیسې خپل بانکي حساب ته انتقالوو نو پدې صورت کې مونږ د نغدې په کتاب کې د بانک حساب ډیبیټ کوو او مبلغ یې د بانک په کالم کې لیکو خو داسې لیکو چې دغه زیاتوالی د نغدې (To Cash A/C) له وجې راغلی. په مقابل کې یې د نغدې حساب کریډیت کوو او مبلغ یې هم د نغدې په کالم کې لیکو خو داسې لیکو چې دغه کموالی د بانک (By Bank A/C) له وجې په نغده کې راغلی. او په آخره کې دې ډول معاملاتو ته د Payment او Receipt په برخه کې © کلیمه لیکو.

که چیرې داسې وشي چې کاروبار د خپل شخصي مصارفو لپاره پیسې له خپل بانکي حساب نه وباسي نو پدې صورت کې په ژورنال کې د Drawings اکونټ ډیبیټ کیده او د بانک حساب کریډیټ کیده نو دا ډول معاملات د نغدې په کتاب کې پدې طریقه ثبت کوو:

د کریډیټ په برخه کې د Drawings A/c لیکو او مبلغ یې د بانک په کالم کې لیکو خو داسې لیکو چې دغه کموالی په بانکي حساب کې د Drawings له وجې راغلی او بس. دا ډول معامله په Contra Entry کې نه ثبت کیږي ځکه چې یوازې په یو اکونټ کې تغیر راځي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## Endorsement of cheque

کله چې یو کاروبار د مشتري نه بانکي چیک ترلاسه کوي او دغه چیک بانک ته نه انتقالوي بلکې دریم ګړي شخص یا اداري ته د تادیې په خاطر ورکوي دېته Endorsement of cheque وایي.

مثلاً تصدی یا کاروبار د خالد نه خام مواد په قرضو خریداري کوي او بیا دغه خام مواد په خپل فابریکه یا دستګاه کې تر پروسس کولو وروسته په تکمیل شویو اجناسو باندې بدلوي او په احمد یې خرڅوي، احمد د خریداري د تادیې لپاره کاروبار ته بانکي چیک ورکوي خو کاروبار دغه بانکي چیک بانک ته نه انتقالوي بلکې خالد ته یې سپاري ترڅو هغه د خامو موادو تادیه پرې وکړي چې دې عمل ته Endorsement of cheque وایي.

Endorsement of cheque




دا ډول اقتصادي معاملات د نغدي په کتاب کې د بانک په کالم کې نه ثبت کیږي بلکې د نغدې په کالم کې ثبت کیږي ځکه چې دغه چیک اصلاً بانک ته انتقال شوی نه دی. که له احمد نه چیک اخلو نو خپل نغده دیبیټ کوو او مبلغ یې هم د نغدې په کالم کې لیکو خو داسې لیکو چې دغه زیاتوالی د (Ahmad A/C) له وجې راغلی.او کله چې دغه چیک بله ورځ خالد ته سپارو نو د نغدې په کتاب کې نغده کریډیټ کوو او مبلغ یې هم د نغدې په کالم کې لیکو خو داسې لیکو چې دغه کموالی د خالد (Khalid A/C) له وجې راغلی.

## Bank Charges

کله چې یو کاروبار په کوم بانک کې حساب پرانیزي نو د وخت په تیریدو سره دغه بانک هم یو اندازه پیسې د کاروبار له بانکي حساب نه د سود په شکل یا د نورو مصارفو په شکل اخلي. خو ځیني وخت بانکونه کاروبارونو ته یو اندازه پیسې د تخفیف په شکل او یا هم د سود په شکل ورکوي. دا ډول معاملات پدې طریقه د نغدې په کتاب کې ثبت کوو:

که چیرې بانک د کاروبار له بانکي حساب نه پیسې واخلي مثلاً سود یې اخیستی وي نو بیا په Cash Book کې د بانک حساب د کریډیټ برخه کې لیکو او مبلغ یې هم د بانک په کالم کې لیکو خو داسې لیکو چې دغه کموالی د سود له وجې او یا د (Bank Charges) له وجې راغلی. خو که برعکس بانک کاروبار ته پیسې ورکړې یعني سود یا تخفیف ورکړي نو بیا په Cash Book کې د بانک حساب د دیبیټ برخه کې لیکو او مبلغ یې هم د بانک په کالم کې لیکو خو داسې لیکو چې دغه زیاتوالی د سود له وجې یا هم د بانک (Bank Surplus) له وجې راغلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د Double Column Cash Book شکل:**

Books of XXX

Dr Cash Book Cr

| Date | Receipts | L.F | Cash | Bank | Date | Payments | L.F | Cash | Bank |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Year Month/Day | | | | | Year Month/Day | | | | |

**مثال:**

**Enter the following transactions in the cash book of Khan traders for May 2016.**

**May 1st: Started business with cash 60000 Af.**

**May 1st: Opened a bank account 45000 Af.**

**May 5th: Purchased goods by cash 7000 Af.**

**May 10th: Purchased office machine for cash 5000 Af.**

**May 15th: Sold goods to Wali & received cheque 6000 Af.**

**May 18th: Sold goods for cash 10000 Af.**

**May 20th: Deposited the Mahmood's cheque into bank.**

**May 22nd: Paid wages by cheque 300 Af.**

**May 25th: Cash withdrawn from bank for personal use 3000 Af.**

**May 30th: Rent paid by cheque 2000 Af.**

**May 30th: Cash deposited into bank 10000 Af.**

**May 30th: Commission paid 2000 Af**

**May 30th: Bank interest received 115 Af.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

Books of Khan Traders

Dr Cash Book Cr

| Date | Receipts | L.F | Cash | Bank | Date | Payments | L.F | Cash | Bank |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2016 | | | | | 2016 | | | | |
| May 1st | To Capital A/C | | 60000 Af | | May 1st | By Bank A/C © | | 45000 Af | |
| May 1st | To Cash A/C © | | | 45000 Af | May 5th | By Purchase A/C | | 7000 Af | |
| May 15th | To Wali A/C | | 6000 Af | | May 10th | By Machine A/C | | 5000 Af | |
| May 18th | To Sales A/C | | 10000 Af | | May 20th | By Bank A/C © | | 6000 Af | |
| May 20th | To Cash A/C © | | | 6000 Af | May 22nd | By Wages A/C | | | 300 Af |
| May 30th | To Cash A/C © | | 10000 Af | | May 25th | By Drawings A/C | | | 3000 Af |
| May 30th | To Interest A/C | | | 115 Af | May 30th | By Rent A/C | | | 2000 Af |
| | | | | | May 30th | By Bank A/C © | | 10000 Af | |
| | | | | | May 30th | By Commission A/C | | 2000 Af | |
| | | | | | May 31st | **By Balance C/d** | | **11000 Af** | **45815 Af** |
| | **Total** | | **86000 Af** | **51115 Af** | | **Total** | | **75000 Af** | **5300 Af** |
| **June 1st** | **To Balance B/d** | | **11000 Af** | **45815 Af** | | | | | |

اوس راځو د پورته Cash Book لپاره د لیجر حسابونه جوړوو خو په یاد ولرئ چې Contra Entry ته، Cash A/C ته او د Bank A/C ته لیجر نه جوړیږي.

**Books of Khan Traders**

**Dr** **Capital A/C** **Cr**

| Date | Particulars | JF | Amount | Date | Particulars | JF | Amount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2016 | | | | 2016 | | | |
| May 31st | **To Balance C/d** | | **60000 Af** | May 1st | By Cash A/C | | 60000 Af |
| | **Total** | | **60000 Af** | | **Total** | | **60000 Af** |
| | | | | **June 1st** | **By Balance B/d** | | **60000 Af** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Books of Khan Traders

**Dr** **Wali A/C** **Cr**

| Date | Particulars | JF | Amount | Date | Particulars | JF | Amount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2016<br>May 31st | **To Balance C/d** | | **6000 Af** | 2016<br>May 15th | By Cash A/C | | 6000 Af |
| | **Total** | | **6000 Af** | | **Total** | | **6000 Af** |
| | | | | **June 1st** | **By Balance B/d** | | **6000 Af** |

## Books of Khan Traders

**Dr** **Sales A/C** **Cr**

| Date | Particulars | JF | Amount | Date | Particulars | JF | Amount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2016<br>May 31st | **To Balance C/d** | | **10000 Af** | 2016<br>May 18th | By Cash A/C | | 10000 Af |
| | **Total** | | **10000 Af** | | **Total** | | **10000 Af** |
| | | | | **June 1st** | **By Balance B/d** | | **10000 Af** |

## Books of Khan Traders

**Dr** **Interest A/C** **Cr**

| Date | Particulars | JF | Amount | Date | Particulars | JF | Amount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2016<br>May 31st | **To Balance C/d** | | **115 Af** | 2016<br>May 30th | By Bank A/C | | 115 Af |
| | **Total** | | **115 Af** | | **Total** | | **115 Af** |
| | | | | **June 1st** | **By Balance B/d** | | **115 Af** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Books of Khan Traders

**Dr** **Purchase A/C** **Cr**

| Date | Particulars | JF | Amount | Date | Particulars | JF | Amount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2016<br>May 5th | To Cash A/C | | 7000 Af | 2016<br>May 31st | **By Balance C/d** | | **7000 Af** |
| | **Total** | | **7000 Af** | | **Total** | | **7000 Af** |
| **June 1st** | **By Balance B/d** | | **7000 Af** | | | | |

## Books of Khan Traders

**Dr** **Machine A/C** **Cr**

| Date | Particulars | JF | Amount | Date | Particulars | JF | Amount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2016<br>May 10th | To Cash A/C | | 5000 Af | 2016<br>May 31st | **By Balance C/d** | | **5000 Af** |
| | **Total** | | **5000 Af** | | **Total** | | **5000 Af** |
| **June 1st** | **By Balance B/d** | | **5000 Af** | | | | |

## Books of Khan Traders

**Dr** **Wages A/C** **Cr**

| Date | Particulars | JF | Amount | Date | Particulars | JF | Amount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2016<br>May 22nd | To Bank A/C | | 300 Af | 2016<br>May 31st | **By Balance C/d** | | **300 Af** |
| | **Total** | | **300 Af** | | **Total** | | **300 Af** |
| **June 1st** | **By Balance B/d** | | **300 Af** | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Books of Khan Traders

**Dr** **Drawings A/C** **Cr**

| Date | Particulars | JF | Amount | Date | Particulars | JF | Amount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2016<br>May 25th | To Bank A/C | | 3000 Af | 2016<br>May 31st | **By Balance C/d** | | **3000 Af** |
| | **Total** | | **3000 Af** | | **Total** | | **3000 Af** |
| **June 1st** | **By Balance B/d** | | **3000 Af** | | | | |

## Books of Khan Traders

**Dr** **Rent A/C** **Cr**

| Date | Particulars | JF | Amount | Date | Particulars | JF | Amount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2016<br>May 30th | To Bank A/C | | 2000 Af | 2016<br>May 31st | **By Balance C/d** | | **2000 Af** |
| | **Total** | | **2000 Af** | | **Total** | | **2000 Af** |
| **June 1st** | **By Balance B/d** | | **2000 Af** | | | | |

## Books of Khan Traders

**Dr** **Commission A/C** **Cr**

| Date | Particulars | JF | Amount | Date | Particulars | JF | Amount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2016<br>May 30th | To Cash A/C | | 2000 Af | 2016<br>May 31st | **By Balance C/d** | | **2000 Af** |
| | **Total** | | **2000 Af** | | **Total** | | **2000 Af** |
| **June 1st** | **By Balance B/d** | | **2000 Af** | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Three Column Cash Book

هغه ډول د نغدي کتاب ته وايي چې په دواړو خواوو يعني کريډيټ او ډيبيټ برخو کې درې درې کالمونه ولري چې عبارت دی له نغده **(Cash)**، بانک **(Bank)** او د تخفيف **(Discount)** کالمونه.

تخفيف په دوه ډوله دی:

- **Discount Allowed** يا هغه تخفيف چې کاروبار يې خپل مشتريانو ته د تاديې پر وخت کې ورکوي. دا ډول تخفيف په Cash Book کې د ډيبيټ په برخه کې ثبت کيږي.
- **Discount Received** يا هغه تخفيف چې کاروبار يې خپله د تاديې يا خريداری پر وخت ترلاسه کوي. دا ډول تخفيف په **Cash Book** کې د کريډيټ په برخه کې ثبت کيږي.

### په Triple Column Cash Book کې د معاملاتو د ثبت کولو طريقه

**لومړی:** په Single Column Cash Book او Double Column Cash Book کې چې د نغدې مربوط اقتصادي معاملات په کومه طريقه ثبت کيږي په همغه طريقه په Three Column Cash Book کې هم ثبت کيږي.

**دوهم:** په Double Column Cash Book کې چې د بانک مربوط اقتصادي معاملات په کومه طريقه ثبت کيږي په همغه طريقه په Three Column Cash Book کې هم ثبت کيږي.

**دريم:** که چيرې تصدی يا کاروبار د تاديې په وخت کې تخفيف ترلاسه کوي چې ديته Discount received هم وايي دغه تخفيف د کاروبار لپاره عايد دی او د عايد بيلانس کريډيټ دی نو دا ډول تخفيف هميشه د کريډيټ په برخه کې ثبت کوو. خو که چيرې کاروبار کوم مشتري ته د خريداری د تاديې په وخت کې تخفيف ورکوي چې ديته Discount Allowed هم وايي دغه تخفيف د کاروبار لپاره مصرف دی او د مصارفو بيلانس ډيبيټ دی نو دا ډول تخفيف په Cash Book کې هميشه د ډيبيټ په برخه کې ليکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مثال:**

**Record the following transactions in the cash book of Ali Baba Company for the month of June 2015:**

**June 1st: Cash in hand 800 Af and at bank 3365 Af.**

**June 3rd: Paid to Naveed by cheque 1175 Af and discount received 25 Af**

**June 5th: Received a cheque from Hamid 990 Af and discount allowed to him 10 Af.**

**June 7th: Deposited the cheque into bank which was received from Hamid.**

**June 10th: Purchased stationary for cash 170 Af.**

**June 15th: Purchased merchandise for cash 1280 Af.**

**June 15th: Sold goods for cash 2450 Af.**

**June 16th: Cash deposited into bank 1250 Af.**

**June 18th: withdrawn cash from bank for personal use 100 Af.**

**June 19th: Issued a cheque to Bashir amount to 1630 Af and discount received from him 20 Af.**

**June 21st: Drew cash from bank for office use 420 Af.**

**June 24th: Received a cheque amount to 1435 Af from Nazeer and allowed him discount 15 Af, the cheque was deposited to the bank immediately.**

**June 25th: Paid a cheque to Yaqoob amount to 385 Af and received a discount of 15 Af**

**June 27th: Bought furniture for office use by cash 380 Af.**

**June 29th: Paid office rent by cheque 350 Af**

**June 30th: Sold goods for cash 4550 Af.**

**June 30th: Paid salaries by cheque 760 Af.**

**June 30th: Cash withdrawn from bank for office use 470 Af.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Books of Ali Baba**

**Dr** **Cash Book** **Cr**

| Date | Particulars | L.F | Cash | Bank | Discount | Date | Particulars | L.F | Cash | Bank | Discount |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2015 June | | | | | | 2015 June | | | | | |
| 1st | To Balance B/d | | 800 Af | 3365 Af | | 3rd | By Naveed A/C | | | 1175 Af | 25 Af |
| 5th | To Hamid A/C | | 990 Af | | 10 Af | 7th | By Bank A/C © | | 990 Af | | |
| 7th | To Cash A/C © | | | 990 Af | | 10th | By Stationary | | 170 Af | | |
| 15th | To Sales A/C | | 2450 Af | | | 15th | By Purchase A/C | | 1280 Af | | |
| 16th | To Cash A/C © | | | 1250 Af | | 16th | By Bank A/C © | | 1250 Af | | |
| 21st | To Bank A/C © | | 420 Af | | | 18th | By Drawings A/C | | | 100 Af | |
| 24th | To Nazeer A/C | | | 1435 Af | 15 Af | 19th | By Bashir A/C | | | 1630 Af | 20 Af |
| 30th | To Sales A/C | | 4550 Af | | | 21st | By Cash A/C © | | | 420 Af | |
| 30th | To Bank A/C © | | 470 Af | | | 25th | By Yaqoob A/C | | | 385 Af | 15 Af |
| | | | | | | 27th | By Furniture A/C | | 380 Af | | |
| | | | | | | 29th | By Rent A/C | | | 350 Af | |
| | | | | | | 30th | By Salaries A/C | | | 760 Af | |
| | | | | | | 30th | By Cash A/C © | | | 470 Af | |
| | | | | | | **30th** | **By Balance C/d** | | **5610 Af** | **1750 Af** | |
| | **Total** | | **9680 Af** | **7040 Af** | **25 Af** | | **Total** | | **9680 Af** | **7040 Af** | **60 Af** |
| **July 1st** | **To Balance B/d** | | **5610 Af** | **1750 Af** | | | | | | | |

په **Three Column Cash Book** کې د تخفیف بیلانس نه محاسبه کیږي بلکې یوازې د هغې مجموعه محاسبه کیږي.

د پورته Cash Book لپاره که تاسي وغواړئ لیجر حسابونه هم جوړولی شئ او بلکل په همغه طریقه جوړیږي لکه څنګه چې تاسي مخکې ولوست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مأخذونه

1. Naresh Aggarwal. (2018). Financial Accounting (YouTube Channel)
2. Jolly Coaching. (2018). Financial Accounting (YouTube Channel)
3. Zeyar Academy. (2019). Financial Accounting (YouTube Channel)
4. Business Finance. (2020). Inayatullah Habibi
5. Different websites. (December 2020)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**